# وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

# د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

## د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

# خبرپاڼه خبر نامه

**5جوزا_سال 1403**




اخبار مهم
افغانستان - منطقه - جهان

# فهرست مطالب

عنوان صفحه


د قطر سره میاشت د راستنو شوو مهاجرینو لپاره کورونه جوړوي---1
معین مسلکی وزارت امور مهاجرین با رییس شرکت طبی شمس دیدار کرد ---1
د څه باندې یو ملیون امریکایي ډالرو په ارزښت اته هوکړه لیکونه لاسلیلک شول ---2
برای ۲۳ خانواده، در ولایت سرپل مساعدت شد ---3
بیش از هزار تن مهاجر طور جبری از پاکستان برگشت نمود---3
بیش از۲ هزار مهاجر مقیم ایران به وطن برگشت نمود---3
برای ۲۷۸ خانواده، در ولایت تخار کمک صورت گرفت ---4
برای بیش از ۳۰۰ خانواده در ولایت ننگرهار، سرپناه اعمار میگردد---4
برای ۲۰ خانواده در ولایت بدخشان کمک خوراکی و نقدی توزیع شد ---5
بیش از 800 مهاجر افغان دیگر از پاکستان اخراج شدند---6
وزارت امور مهاجرین و عودت کنندگان افغانستان اعلام کرد که پاکستان طی روز گذشته بیش از 800 مهاجر افغان را از این کشور اخراج کرده است. ---7
پولنډ کې څنګه د پناه غوښتنه وکړو؟---7
بوسنیا کې د یوې قاچاقي ډلې مهم غړی نیول شوی دی ---12
دریای اژه: فرانتکس در مورد اتهامات عقب زدن مهاجران تحقیق می کند ---14
سال گذشته بیش از سه میلیون نفر در آلمان درخواست پناهندگی دادند ---15
آزادی ۲۳ شهروند افغانستان از زندان‌های پاکستان---17
از ابتدای سال جاری تاکنون 510 مهاجر غیرقانونی در مدیترانه مرکزی جان باخته‌اند---18
سازمان بین‌المللی مهاجرت از طریق شبکه اجتماعی ایکس اطلاعاتی در این زمینه ارائه کرد ---19

# متن کامل اخبار

## د قطر سره میاشت د راستنو شوو مهاجرینو لپاره کورونه جوړوي

د وزارت ویب سایت

**د هلال احمر قطري د مرستو او نړیوالې پراختیا رئیس دوکتور محمد صلاح ابراهیم او ورسره مل پلاوي د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو سرپرست وزیر الحاج خلیل الرحمن حقاني سره ولیدل**
**په ناسته کې د راستنو شوو مهاجرینو په اړتیاو او د وروستیو سیلابونو له امله بېځایه شوو ته د بشري مرستو په رسولو خبرې وشوې**
**نوموړي ژمنه وکړه، چې د مهاجرینو په ښارګوټو کې به راستنو شوو مهاجرینو لپاره کورونه جوړ کړي، خو د تعداد په هکله به یې د قطر خیریه صندوق سره تر مشورو وروسته معلومات شریک او عملا به یې په کار پیل وکړي**

## معین مسلکی وزارت امور مهاجرین با رییس شرکت طبی شمس دیدار کرد

ویب سایت وزارت



**الحاج مولوی عبدالرحمن راشد، معین مسلکی وزارت امور مهاجرین وعودت کننده گان، با آقای شمس الحبیب رییس شرکت طبی شمس لمتد در دفتر کارش ملاقات کرد.**

**دراین دیدار رییس شرکت متذکره در مورد تولیدات ماشین های اکسری آن شرکت به معین مسلکی وزارت معلومات داده و از همکاری اش در بخش آموزش ها ی فنی و حرفوی برای مهاجرین برگشت کننده متخصص و تحصیل کرده اطمینان داد.**

**آقای راشد گفت: جای خرسندی است که کشور ما در تولیدات ماشین های با کیفیت صحی ترقی نموده و ما از تولیدات داخلی حمایت خواهیم نمود و باید خود مان کشور خویش را آباد سازیم.**

**معین مسلکی وزارت امور مهاجرین از همکاری اش در آینده به وی تعهد نمود.**

## د څه باندې یو ملیون امریکایي ډالرو په ارزښت اته هوکړه لیکونه لاسلیلک شول

د وزارت ویب سایت



**د مهاجرینو چارو وزارت او د ګلوبل ټولنې ودې او علمي څېړنې، د ټولنیزې پراختیا نوې لار، د افغانستان لپاره د تلپاتې موخو موسسه، د افغانستان د ودې او بیارغونې همغږۍ، د افغاني ټولنې روغتیا او بیارغونې، د جاپان خیریه مرستو نړیوال معاونیت پلاوی او د افغانانو لپاره د ښوونیزو، بشري او روغتیایي پرمختګونو موسسو ترمنځ د یو ملیون او ۷۹ زره او ۱۱۱ امریکایي ډالرو په ارزښت  اته هوکړه لیکونه لاسلیلک شول**

**د دې هوکړه لیکونو پر بنسټ، د افغاني ټولنې د روغتیا او بیارغونې موسسه به په کندهار، هلمند، زابل، ارزګان او نیمروز ولایتونو کې د سرپنا جوړولو، د سرپناوو په سیمو کې د ماینونو پاکولو، د نغدي مرستو وېش او د ۷٦۰ کورنیو لپاره د ظرفیت لوړونې د پروګرام په برابرولو کې د ۴سوه ۳۹ زره او ۷۲۵ ډالره لګوي.**

**د جاپان د خیریه مرستو موسسه په ننګرهار ولایت کې ۶۰۰ کورنیو ته د دریو میاشتو لپاره د کوپون د وېش په برخه کې ۳ سوه ۱۵ زره او ۸۵۴ ډالره مرسته کوي، د نړیوال  معاونیت پلاوي موسسه د پوهنې، اړتیاوو ارزونې، د لومړنیو ودانیزو توکو او د روغتیایي کڅوړو د وېش او په بلخ ولایت کې د ۲ زره او ۷۸۹ تنو لپاره د ټولګیو په جوړولو کې په برخو کې یو سل او ۱۱۵ زره او ۲۳۶ ډالره.**



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

د ټولنیزې پراختیا نوې لار موسسه په بغلان او کندز ولایتونو کې د ۱۲۰۰ کورنیو ته د خوراکی او غیر خوراکي توکو د وېش لپاره ۸۶ زره ۳۳۸ ډالره ځانګړې کړې دي. د ګلوبل ټولنې د علمي څېړنو او ودې موسسه په کابل، بغلان او کندز ولایتونو کې د ۴۶۰ کورنیو ته د خوراکی توکو د مرستو په وېش لپاره ۷۸ زره او ۶۷۸ ډالره لګوی.

په همدې ډول د افغانستان د پراختیا او بیارغونې د همغږۍ موسسه په بادغیس ولایت کې د ۵ زره کورنیو لپاره د خوراکي توکو د وېش په برخه کې ۲۳ زره او ۲۸۰ ډالر او د افغانستان د تلپاتې موخو او د افغانانو لپاره د ښووونیزو، بشري او روغتیایي پراختیایي پرمختګونو موسسې هلمند ولایت کې ۱۶۰ کورنیو ته د خوراکي توکو د وېش په برخه کې ۲۳زره او ۲۸۰ ډالره لګوي.

دغه هوکړه لیکونه د وزارت د مسلکي مرستیال مولوي عبدالرحمن راشد او د پورته بنسټونو د استازو له خوا لاسلیک شول.

## برای ۲۳ خانواده، در ولایت سرپل مساعدت شد

ویب سایت وزارت

برای ۲۳ خانواده در ولایت سرپل، کمک نقدی بتاریخ ۲ جوزا توزیع گردید.

خانواده های متذکره شامل برگشت کننده گان اجباری از کشور های همسایه بودند که از جانب امریت امور مهاجرین آن ولایت قبلاً شناسایی که پس از آن مبلغ ۲ هزار افغانی برای هر عضو خانواده از جانب امارت اسلامی با نظارت کمیته ولایتی و آمریت مهاجرین برای شان توزیع شد..

## بیش از هزار تن مهاجر طور جبری از پاکستان برگشت نمود

ویب سایت وزارت

یک هزار و ۱۵۱ تن مهاجر افغان به تاریخ ۲ جوزا از مرز سپین بولدک و خط فرضی تورخم به کشور برگشت نموده اند.

و به اساس معلومات آمریت سرحدی تورخم ولایت ننگرهار، ۱۴۲ خانواده که شامل ۷۸۱ تن بودند، طور جبری از پاکستان برگشت نمودند و بعد از ثبت درا‌داره امور مهاجرین جهت کمک به دفاتر کمیشنری عالی ملل متحد و سازمان بین المللی مهاجرت معرفی شدند.

و به اساس معلومات آمریت سرحدی سپین بولدک ولایت قندهار، ۷۰ خانواده شامل ۳۷۰ تن از مرز یاد شده برگشت پس از ثبت در آن آمریت  جهت کمک به دفاتر سازمان بین المللی مهاجرت، سازمان جهانی خوراک و کمیشنری عالی ملل متحد در امور پناهنده گان معرفی و برای هر خانواده مطابق به طرز العمل از طرف امارت اسلامی  نیز کمک صورت گرفته است.

## بیش از۲ هزار مهاجر مقیم ایران به وطن برگشت نمود

ویب سایت وزارت

دو هزار و ۳۸۶ تن مهاجر مقیم ایران به تاریخ ۲ جوزا از طریق مرز اسلام قلعه ولایت هرات طور داو طلب واجباری به کشور برگشت نمودند.

به اساس معلو مات آمر سرحدی اسلام قلعه، از میان افراد مذکورکه شامل خانواده ها ومجردین بودند، ۳۱۵ نفر ایشان نیازمند شناسایی و غرض دریافت کمک به دفتر سازمان بین المللی مهاجرت معرفی ومواد غذایی وغیر عذایی را دریافت کردند.

۱۹ تن اطفال بی سرپرست به موسسه WARCHILD جهت شناسایی خانواد ها ی شان معرفی، برای ۸۲ خانواده مبلغ ۱۰ هزار افغانیگی، برای ۱۹۰ تن سیمکارت طور رایگان از جانب کمیته های موظف در سرحد توزیع شده است.

و تعداد ۲۱۴ تن از خدمات صحی بهره مند شده اند.

## برای ۲۷۸ خانواده، در ولایت تخار کمک صورت گرفت

ویب سایت وزارت



**برای ۲۷۸ خانواده برگشت کننده و بیجاشده متضرر ناشی از سیلاب، در ولایت تخار بسته های غیر خوراکی و نقدی بتاریخ ۲ جوزا توزیع شد.**

**خانواده های متذکره در ولسوالی های خواجه بهاوالدین و چال آن ولایت قبلاً از طرف ریاست امور مهاجرین سروی شده بودند.**

**کمک یاد شده برای ۱۳۳ خانواده مبلغ ۴۰۰ دالر امریکایی و ۴ هزار و ۶۳۰ افغانی بخاطر اعمار سرپناه کمک موسسه WADAN و برای ۱۴۵ خانواده دیگر بسته های پوشاک، کمپل و ظروف از جانب موسسه آغا خان برای اسکان بود که هر خانواده آن را با نظارت امور مهاجرین آن ولایت دریافت نمودند.**

## برای بیش از ۳۰۰ خانواده در ولایت ننگرهار، سرپناه اعمار میگردد

ویب سایت وزارت



به اساس گزارش ریاست امور مهاجرین و عودت کننده گان ولایت ننگرهار، برای ۳۶۶ خانواده برگشت کننده در آن ولایت با همکاری شورای مهاجرت ناروی سرپناه اعمار میگردد.

درنشستی که میان بازمحمد عبدالرحمن رییس امورمهاجرین آن ولایت و آقای ارچوتن امر رییس زون ساحوی جنوبی شورای مهاجرت ناروی صورت گرفت، رییس مهاجرین ننگرهار برعلاوه اعمار سرپناه برای برگشت کننده گان موضوع پرداخت کرایه خانه و ترمیم دوباره سرپناه شماری از خانواده های را که توانایی اقتصادی ندارد با آقای ارچوتن مطرح نمود.

آقای ارچوتن گفت: برای ۳۶۶ خانواده برگشت کننده یک یک باب سرپناه دارای دو اتاق به شکل اساسی در ولسوالی های کوزکنر، دره نور، بهسود، سرخرود و سپین غر از جانب آن شورا اعمار خواهد شد و برعلاوه آن در پرداخت کرایه خانه ۸۳۲ خانواده در نواحی شهر جلال آباد و پنج ولسوالی دیگر نیزکمک صورت میگیرد.

## برای ۲۰ خانواده در ولایت بدخشان کمک خوراکی و نقدی توزیع شد

ویب سایت وزارت



**برای ۲۰ خانواده متضرر ناشی از سیلاب در ولایت بدخشان مساعدت های نقدی و خوراکی بتاریخ ۲ جوزا توزیع شد.**

**خانواده های مذکور در ولسوالی یفتل پاین آن ولایت با همکاری کمیته اضطرار ولایتی قبلاً مورد شناسایی قرار گرفته بودند که پس از آن کمک های نقدی، خوراکی و غیر خوراکی را از جانب هیات اعزامی وزارت دریافت نمودند.**

**گفتنی است که سیلاب های اخیر درآن ولایت خسارات هنگفت مالی و جانی را به مردم آن ولایت برجا گذاشته است.**

## بیش از 800 مهاجر افغان دیگر از پاکستان اخراج شدند

صدای ترکیه

**وزارت امور مهاجرین و عودت کنندگان افغانستان اعلام کرد که پاکستان طی روز گذشته بیش از 800 مهاجر افغان را از این کشور اخراج کرده است.**




**وزارت امور مهاجرین و عودت کنندگان اداره طالبان در افغانستان امروز پنجشنبه با انتشار اطلاعیه‌ای اعلام کرد: پاکستان در یک روز گذشته 838 مهاجر افغان شامل خانواده‌ها و افراد مجرد را از این کشور اخراج کرده است.**

**بر اساس این اطلاعیه، مهاجران مذکور از طریق مرزهای تورغندی در ولایت ننگرهار و سپین بولدک در ولایت قندهار دوباره وارد افغانستان شده‌اند.**

**این وزارت‌خانه همچنین از بازگشت مهاجران از ایران خبر داد که نشان دهنده افزایش اخراج مهاجران افغان از ایران و پاکستان طی ماه‌های اخیر است.**

## پولنډ کې څنګه د پناه غوښتنه وکړو؟

مهاجرنیوز



ډېری هغه کډوال چې له بېلاروس څخه پولنډ ته په رسېدو بریالي کېږي په دغه هېواد کې د پناه غوښتنه کوي. خو پولنډ کې د پناه غوښتنې پروسیجر څه ته وایي او څنګه دی؟ بشپړ معلومات لاندې مطلب کې.

د ۲۰۲۱ له اوړي راهیسې زرګونه کډوال هڅه کوي چې پر خطرناکو لارو له بېلاروس څخه ځانونه پولنډ ته ورسوي. د پولنډ د پوله ساتو ځواکونو په خبره، د ۲۰۲۴ له پیل راهیسې، تر ۱۳۰۰۰ کسانو، چې د روسیې او یا بېلاروس ویزې یې درلودې، هڅه کړې چې د پولنډ خاورې ته داخل شي.

ډېری دغه کډوال د سوریې، عراق، افغانستان، کامرون او یا سوډان اتباع دي. په ۲۰۲۲ کې پولنډ د پناه غوښتنې ۹۰۰۰ دوسیې او په ۲۰۲۱ کې بیا ۷۶۰۰ دوسیې ثبت کړې وې.

په پولنډ کې د پناه غوښتنې چارې څنګه ترسره کېږي او پناه غوښتونکو له کومو حقونو څخه برخمن دي؟ دلته یې بشپړ جزیات لوستلی شئ.

۱ ـ د پناه غوښتنه

- له بېلاروس سره پر پوله

د نړیوالو قوانینو پر اساس، ټول هغه بهرنیان چې د پولنډ خاورې ته په رسېدو بریالي کېږي، حق لري چې په شفاهي یا کتبي توګه پناه وغواړي. مهاجر کولی شي چې د پولنډ پولې ته له رسېدو سره سم له پوله ساتو ځواکونو څخه د پناه غوښتنه وکړي.



Website: https://morr.gov.af

Twitter: https://twitter.com/MoRRAfg

Facebook: https://www.facebook.com/morr.gov.af2

پوله ساتي ځواکونه دنده لري چې دغه پناه غوښتنلیکونه پولنډ کې د بهرنیانو ادارې ته واستوي.

*خو د بشري حقونو سازمانونه او عیني شاهدان وايي چې پر پوله د پناه غوښتنې له حق څخه په منظمه توګه سرغړونه کېږي. سوډانی کډوال عز الدین وايي: «امنیتي ځواکونو ته مې وويل چې پناه غواړم، خو زما غوښتنې ته یې غوږ ونه نیوه.» دغه مهاجر چې اته ځله یې له بېلاروس څخه پولنډ ته د اوښتو هڅه کړې ده وايي چې هر ځل یې د پناه غوښتنه کړې، خو د پولنډ له خاورې څخه په شا تمبول شوی دی.*

پناه غوښتونکي اړ دي چې خپل د هویت اسناد پوله ساتو ځواکونو ته ورکړي. دغه اسناد د بهرنیانو ادارې ته استول کېږي او د پروسیجر تر پایه پورې یاده اداره کې ساتل کېږي. په بدل کې یې پناه غوښتونکو ته» د بهرنیانو لپاره لنډمهال تصدیق لیک

«په نوم سند ورکول کېږي چې کډوالو ته پولنډ کې د اوسېدو اجازه ورکوي.

دغه سند ۹۰ ورځې اعتبار لري او د تمدید وړ دی.

- د کډوالو په مرکز کې

مهاجر کولی شي چې د پولنډ په ۱۶ مرکزونو کې کې هم د پناه غوښتنه وکړي. دغه مرکزونه یا پرانیستي دي او یا تړلي: مانا یې دا چې کډوال یا له قید او شرط پرته ترې د وتلو اجازه لري او یا نه.

په تړلو مرکزونو کې کډوال کولی شي چې له پوله ساتو ځواکونو څخه په شفاهي یا کتبي ډول د پناه غوښتنه وکړي .مهاجر تر دغه درخواست وروسته پرانیستو مرکزونو ته استول کېږي چې پناه غوښتونکو ته ځانګړي شوي دي.

*خو ځینې وختونه له دغې قاعدې څخه هم سرغړونه کېږي. عراقی کډوال علي چې بیالا پوډلاسکا کې اوسېږي تر پناه غوښتنې وروسته پرانیستي مرکز ته واستول شو، خو عبدو بیا د لسزنولا په تړلي مرکز کې پاتې شو. عبدو وايي: «د پناه غوښتنه مې کړې وه، خو دوی داسې یو ځای کې ساتلم چې زندان ته شانته و.» یو شمېر پناه غوښتونکي په میاشتو میاشتو په دغو مرکزونو کې پاتې کېږي.*

پوله ساتي ځواکونه صلاحیت لري چې، مثلاً، د ژباړونکي تر رسېدو پورې د پناه غوښتنلیکونو له منلو ډډه وکړي. خو د کډوالو او تبعیدیانو په چارو کې د اروپايي شورا یا اي سي آر اي

<u>راپور</u> ابدا وايي چې له دې سره سره یې «هیله» یا «خواست» باید درج او د د هغوی د دوسیو د ثبت لپاره وخت وټاکل شي. په دغه موده کې پناه غوښتونکو ته د اخراج د اسنادو ورکول غیرقانوني دي.

*خو په مرکزونو کې پناه غوښتنه سخته ده او د دغه پروسیجر پیل او ترسره کېدل د پوله ساتو ځواکونو له تصامیمو سره تړلي دي. د ګروپا ګرانیکا غړې ژوانا په خبره، «ځینې وختونه کډوال اړ دي چې څو اونۍ انتظار وکړي ترڅو پوله ساتي ځواکونه له ژباړونکو سره اړیکه ونیسي «او د کډوالو دوسیې ثبت کړي. یو شمېر کډوال هم له پناه غوښتنې مخکې د اخراج لیکونه ترلاسه کوي.*

د دوسیې له ثبت وروسته، پوله ساتي ځواکونه باید پناه غوښتونکو ته یو رسمي سند ورکړي چې لاندني معلومات پکې درج شوي وي:

-د پناه غوښتنې قواعد

-د پناه غوښتونکو حقونه او مکلفیتونه او قضایي پایلې یې

-مرستندویه سازمانونه

-د دولت وړیا قضایي خدماتو ته لاسرسی

-د هغه مرکزونو ادرسونه چې پناه غوښتونکي پکې اوسېدلی شي

<u>کم عمره کډوال</u> :کم سنه کډوال له پناه غوښتنې مخکې باید د هډوکو یا غاښونو له ازموینو تېر شي.

*که څه هم دغه ازموینې په بېلابېلو اروپایي هېوادونو کې ترسره کېږي، خو کارپوهان یې پر اعتبار شک څرګندوي. شپاړس کلن کامرونی کډوال بنیامین د غاښونو تر ازموینې وروسته د کم سن کډوال په توګه ونه پېژندل شو او څو میاشتې د بالغو کډوالو مرکز کې بندي و.*

۲ .پولنډ کې د پناه غوښتونکو ژوند

- له مراکزو څخه بهر

هغو پناه غوښتونکو ته چې له مراکزو څخه بهر اوسېږي، په میاشت کې د سرپناه لپاره ۱۶۵ او د خوړو لپاره ۱۱ یورو ورکول کېږي. یوه څلور کسیزه کورنۍ بیا په میاشت کې ۳۱۸ یورو ترلاسه کوي.

د اي سي آر اي په خبره، له دغه مبلغ سره وارشا کې د یو اپارتمان یا حتی د یوې کوټې کرایه کول سخت او حتی ناممکن دي، خصوصاً چې یو شمېر پولنډیان بهرنیانو ته د خپلو کورونو له کرایه ورکولو ډډه کوي.

- د پناه غوښتونکو په لسو ځانګړو مرکزونو کې

دغو مرکزونو کې پناه غوښتونکي لاندنیو مواردو ته لاسرسی لري:

-سرپناه

-مرکز کې خواړه او یا مالي معادل یې

-په میاشت کې د ۱۰،۶۱ په ارزښت د شخصي لګښتونو لپاره مالي مرسته

-د روغتیایي شیانو د پېرلو لپاره په میاشت کې ۴،۲۴ یورو مالي مرسته

-د کالیو یا بوټانو د اخیستو لپاره د ۲۹،۷۱ یورو په ارزښت کوپون

که چېرې پناه غوښتونکی په مرکز کې د پاککارۍ، ژباړنې، د کډوالو لپاره د فرهنګي یا زدکړیزو فعالیتونو جوړولو کې برخه واخلي، نو ورته ۱۰،۶۱ یورو نه بلکې ۲۱،۲۴ یورو ورکول کېږي.



د

بیالا پودلاسکا تړلي مرکز کې د پناه غوښتونکو په ګډون ۲۵۰ کډوال اوسېږي. انځور: مارلېن پانارا، کډوال نیوز

ټول پناه غوښتونکي له دغو حقونو برخمن دي:

-د پولنډي ژبې کورسونو کې ګډون او د کورس موادو ته وړیا لاسرسی

-د ماشومانو لپاره د ښوونځي وسایل

-د پناه غوښتنې چارو، روغتیایي معاینو او یا واکسین لپاره د عامه ترانسپورټ لګښتونه د دولت له خوا ورکول کېږي

-روغتیایي خدماتو ته لاسرسی

۳ .مرکه

پناه غوښتونکي د خپلو غوښتنلیکونو له وړاندې کولو څو اونۍ یا څو میاشتې وروسته د بهرنیانو له ادارې سره د مرکې وخت ترلاسه کوي. دوی حق لري چې ژباړونکي ولري.

له چارواکو سره مصاحبې په فزیکي توګه یا د ویډیو کنفرانس له لارې ترسره کېږي.

پناه غوښتونکو ته د هغوی په مورنۍ ژبه ځواب ورکول کېږي.

چارواکي باید د ۶ میاشتو په موده کې له پناه غوښتونکو سره د مرکې لپاره اړیکه ونیسي. که چېرې د یو پناه غوښتونکي قضیه «پیچلې» وي یا دوسیه یې پوره نه وي، دغه موده تر ۱۵ میاشتو غځول کېږي.

۴ .استیناف

د منفي ځواب په صورت کې پناه غوښتونکي حق لري چې د ۱۴ ورځو په موده کې د استیناف غوښتنه وکړي. د بهرنیانو اداره له پناه غوښتونکو سره قضایي مرسته کوي.

د استنیاف غوښتنه د کډوالو کمیسیون ته وړاندې کېږي. دغه کمیسیون د یوې میاشتې په موده کې د استیناف غوښتنې ته ځواب ورکوي.

*ځینې وختونه د انتظار موده اوږده ده. د اي سي آر اي په خبره، په ۲۰۲۲ کې د کمیسیون له خوا د استیناف د غوښتنو ارزونې په اوسط ډول ۱۲۷ ورځې وخت نیولی و. یو شمېر سازمانونه وايي چې په زیاتو مواردو کې دغه پروسیجر «سمبولیک» دی او یاد کمیسیون یوازې «د بهرنیانو ادارې پرېکړې تاییدوي». په ۲۰۲۲ کې، د ۱۵۳۱ استیناف غوښتنلیکونو څخه ۱۴۴۹ ته یې منفي ځوابونه ورکړل شوي وو.*

د منفي ځواب په صورت کې پناه غوښتونکي باید د ۳۰ ورځو په موده کې له پولنډ څخه ووځي.

۵ .مثبت ځواب

د مثبت ځواب په صورت کې کډوالو ته د» کارتا پوبیتو

«په نوم اقامت کارت ورکول کېږي. د جانبي حفاظت سند دوه کاله اعتبار لري.

د قانون له مخې، ټولو اقامت کارتونو کې باید ولیکل شي چې درلودونکي یې د کار بازار ته لاسرسی لري. کډوال او د جانبي حفاظت درلودونکي کولی شي چې د پولنډیانو په شان په ټولو سکتورونو کې کار وکړي.

پناه غوښتونکي کولی شي چې د مثبت ځواب له ترلاسه کولو وروسته تر ۲ میاشتو پورې د هرکلي مراکزو کې پاتې شي. خو له ۲ میاشتو وروسته دوی اړ دي چې د چارواکو په صلاحدید او د شخصي ادغام د ۱۲ میاشتني پروګرام په چوکاټ کې په یو بل ځای کې ژوند وکړي.

کډوال باید د خپلو کارتونو د انقضا له مودې ۳۰ ورځې مخکې د اقامې د تمدید غوښتنه وکړي.

## بوسنیا کې د یوې قاچاقي ډلې مهم غړی نیول شوی دی

مهاجرنیوز




د بوسنیا امنیتي ځواکونه وایي چې د یوې لویې قاچاقي ډلې هغه مهم غړی یې نیولی چې اروپایي ټولنې ته د شاوخوا ۱۵۰۰ کډوالو لیږدولو کې ښکېل دی. ویل کېږي دغه عراقي الاصله هالنډي په بېلابېلو هېوادونو کې فعالیت درلود.

د بوسنیا امنیتي ځواکونو د دغه هېواد له ځارنوالۍ سره په همغږۍ سراییوو کې د یوې لویې قاچاقي شبکې مهم غړی نیولی دی چې د عراق او هالنډ غبرګ تابعیت لري. ویل کېږي چې دغه کس په عراق، ترکیه، بوسنیا او هرزه ګوینا او اروپايي ټولنه کې فعالیت درلود.

د بوسنیا د پلټنو او د ساتنې ملي ادارې یا سیپا د پنجشنبې په ورځ، د می ۲۳مه، د یوې <u>اعلامیې</u> په خپرولو سره وویل چې یاد کس نږدې ۱۵۰۰ عراقیان د اروپایي ټولنې غړو هېوادونو ته لیږدولي دي. یادې ادارې زیاته کړې ده چې د نوموړي د نیولو په وخت کې یو شمېر وسایل هم ترلاسه شوي دي چې د قضایي پروسیجر پر مهال به د شواهدو په توګه وکارول شي. دمګړی د بوسنیا امنیتي چارواکو او د اروپا پولیسو یا یوروپول د دې قضیې پر مستند کولو او د ثبوتونو پر راټولولو بوخت دي.

دغه قضیه کې کرواسي، سلوانیا، جرمني او برېتانیا د بوسنیا او هرزه ګوینا له چارواکو سره همکاري کوي.

اروپایي ټولنې ته د اوښتو هڅې

ډېری هغه کډوال چې د بالکان یا بوسنیا او هرزه ګوینا – کرواسي – سلوانیا له لارې ځانونه اروپايي هېوادونو ته رسوي د افغانستان او سوریې اتباع دي. د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو ادارې د شمېرو له مخې، په ۲۰۲۳ کې تر ۳۵ زره زیاتو کډوالو د بوسنیا له لارې اروپایي ټولنې ته د اوښتو هڅه کړې او ډېری یې کرواسي ته تللي دي.

کرواسي په وار وار په دې تورنه شوې چې کډوال یې په ناقانونه توګه له خپلې خاورې څخه په شا تمبولي دي، خو زاګرب بیا دا ادعاوې بې اساسه بولي. دا هېواد چې د بالکان پر لاره پروت دی د ۲۰۲۳ له جنورۍ راهیسې د شینګن زون غړي په توګه پېژندل کېږي.

دا هم ولولئ
یوه شپه کې کرواسی ته د ۶۰۰ کډوالو د ننوتلو مخه نیول شوې ده

د بشري حقونو د څار سازمان د یو راپور له مخې د شینګن هېوادونو له خوا د کرواسي د غوښتنې له منل کېدو لږ مخکې له دغه هېواد څخه د شړل شویو کډوالو په شمېر کې کموالی راغلی و، خو د ۲۰۲۳ په مارچ میاشت کې د کډوالو د اخراج لړۍ بیا پیل شوه.

تېر کال په بوسنیا کې د کډوالو مدافع بنسټونو خبر ورکړی و چې د مارچ او اپریل میاشتو کې ګڼ شمېر کډوال په سرویس موټرونو کې له کرواسي څخه بوسنیا ته شړل شوي دي. هغه وخت د کرواسي چارواکو د دې خبر په تاییدولو سره ویلي وو چې یاد کډوال یې د دوه اړخیز هوکړه لیک پر اساس بوسنیا ته استولي دي.

## دریای اژه: فرانتکس در مورد اتهامات عقب زدن مهاجران تحقیق می کند

مهاجرنیوز



آژانس محافظت از مرزهای اتحادیه اروپا «فرانتکس» در حال حاضر راجع به دو اتهام تحقیق می کند که براساس آن کارمندانش در عقب زدن اجباری مهاجران در بحیره اژه دست داشته اند .

این نهاد اتحادیه اروپا روز پنجشنبه در وارسا اعلام کرد که چنین اتهاماتی را بسیار جدی می گیرد و تحقیقات درباره این رویدادهای بسیار جدی را به جریان انداخته است.

فرانتکس این بیانیه را در مورد تحقیقاتی نشر کرد که چندی است در واکنش به گزارش مشترک شبکه رادیویی و تلویزیونی «ان دی ار» و «وی دی ار» به جریان افتاده است.

در همین زمینه
<u>بلژیک: ماموران فرانتکس در کنترول فرودگاهها و ایستگاه مرکزی ترن بروکسل شرکت می‌کنند</u>

عقب زدن پناهجویان در مرزهای بیرونی که از آن به عنوان «پوش بک» یاد می شود براساس قوانین بین المللی غیرقانونی است. فرانتکس با اشاره به تحقیقاتی که به جریان افتاده اند، جزئیات بیشتری ارائه نکرد.

براساس تحقیقات شبکه های نامبرده، فلم های ویدیویی وجود دارد که نشان می دهد چگونه در ماه جنوری سال ۲۰۲۴ مردان نقاب پوش در یک کشتی که ظاهرا متعلق به گارد ساحلی یونان است، به یک قایق بادی با ۳۰ سرنشین نزدیک می شوند و آن ها را با چماق تهدید می کنند.

به گفته این دو فرستنده آلمانی، در پس زمینه یک کشتی گارد ساحلی لیتونی دیده می شود که برای فرانتکس در بحیره اژه ماموریت انجام می دهد. گفته می شود که این قایق بادی بعدا توسط گارد ساحلی ترکیه در آب های این کشور رهگیری شده است.

بر اساس گزارش، رویداد دوم در ماه فبروری سال ۲۰۲۴ رخ داده است. ۳۰ تن در یک قایق بادی در بحیره اژه با دیدن قایق های دیگر در آن نزدیکی درخواست کمک کرده اند. اما این قایق به گفته یک شاهد عینی توسط ماموران یونانی به آب های ترکیه عقب زده شده است.

در همین زمینه
<u>فرانتکس باید به سازمان آلمانی «سی واچ» امکان دسترسی به اسناد را بدهد</u>

همچنین ادعا می شود که یک کشتی گارد ساحلی بلغاریا نیز برای فرانتکس در حال انجام ماموریت بوده است. سازمان های غیردولتی پیوسته فرانتکس را متهم می کنند که از حقوق پناهجویان به اندازه کافی محافظت نمی کند. در سال ۲۰۲۲ رئیس پیشین فرانتکس، فابریس لگری از فرانسه پس از اتهامات سنگینی که برعلیه او و کارمندانش مطرح شد، استعفا کرد. هانس لیتنس، جانشین هالندی او اعلام کرد که در مورد اتهامات برعلیه کارمندان فرانتکس دقیقا تحقیق می کند و متخلفان مجازات خواهند شد.

## سال گذشته بیش از سه میلیون نفر در آلمان درخواست پناهندگی دادند

مهاجرنیوز



در سال گذشته شمار افرادی که به آلمان آمدند و درخواست محافظت دادند، به بیش از سه میلیون تن رسیده است .سه چهارم این پناهجویان از پنج کشور مبدا هستند که یکی از آن ها افغانستان است .

شمار شهروندان خارجی که در آلمان پناه می جویند، در اواخر سال ۲۰۲۳ مجددا افزایش یافته است. اداره فدرال آمار در ویس بادن روز پنجشنبه اعلام کرد، در اواخر سال گذشته در دفتر مرکزی ثبت شهروندان خارجی ۳،۱۷ میلیون تن به عنوان پناهجو ثبت شده بودند که به این ترتیب شمار آن ها در مقایسه با یک سال قبل از آن ۹۵ هزار تن بیشتر بوده است.

در همین زمینه
بیشتر از ۷۵ هزار درخواست پناهندگی در اتحادیه اروپا در ماه فبروری ارائه شده است

پس از حمله روسیه به اوکراین در سال ۲۰۲۲ شمار افرادی که به آلمان پناه آوردند، افزایش یافت. آن ها در چارچوب قوانین بین المللی و یا به دلایل سیاسی می توانند در آلمان اقامت داشته باشند.

بنا به اطلاعات اداره فدرال آمار بیشتر پناهجویان (۹۷۷ هزار تن) از اوکراین به این جا آمده بودند. اما شمار آن ها در مقایسه با یک سال قبل از آن سه درصد کاهش یافته است.

در جایگاه های بعدی پناهجویان سوریایی با ۷۱۲ هزار تن (۶ درصد افزایش)، افغانستان ۳۲۳ هزار تن (۱۳ درصد افزایش)، عراق با۲۰۰ هزارتن ( ۵ درصد کاهش) و ترکیه با ۱۵۲ هزار تن (۵۱ درصد افزایش) قرار دارند. پناهجویان از این پنج کشور مبدا تقریبا سه چهارم همه پناهجویان را تشکیل می دهند.

**حدود ۲،۵ میلیون تن در اواخر سال گذشته به دلایل بشردوستانه مدرک محافظت دریافت کردند. به گفته اداره فدرال آمار شمار آن ها در مقایسه با یک سال قبل ۱۲ درصد بیشتر بوده است که دلیل اصلی آن به رسمیت شناختن پناهجویان اوکراینی عنوان شده است.**

**اکثر این پناهجویان (۸۷ درصد) با مدرک محافظت محدود در آلمان زندگی می کنند و تقریبا نیمی از آن ها از طریق پروسه پناهندگی به آن دست یافته بودند. اما دسترسی به این مدرک بدون ارائه درخواست پناهندگی نیز ممکن است. طور مثال پس از حمله روسیه به اوکرایین، پناهجویان اوکراینی که به آلمان فرار کرده بودند به حیث پناهنده به رسمیت شناخته شدند.**

**در همین زمینه**
**گزارش: از سرگیری کنترول مرزی سبب کاهش درخواست‌های پناهندگی در آلمان شده است**

**در مجموع درخواست های پناهندگی ۱۸۹ هزار پناهجو رد شده و یا این که آن ها مدرک محافظت شان را از دست داده اند. بنا به اطلاعات اداره فدرال آمار از آن جایی که در اواخر سال ۲۰۲۳ در مورد درخواست های پناهندگی هنوز تصمیمات نهایی گرفته نشده بود، وضعیت پناهندگی ۴۵۵ هزار تن نامعلوم بود.**

## آزادی ۲۳ شهروند افغانستان از زندان‌های پاکستان

طلوع نیوز



از سویی دیگر برخی مهاجران افغان در پاکستان، چالش‌های گرفتن ویزا را از علت‌های اصلی زندانی شدن مهاجران افغان در این کشور می‌دانند

قونسل امارت اسلامی در کراچی پاکستان گفته است که ۲۳ شهروند افغانستان به‌شمول یک کودک روز گذشته (پنج‌شنبه) از زندان‌های پاکستان آزاد و رهسپار کشور شده‌اند.

عبدالجبار تخاری در این باره گفته است که اکنون ۴۰ شهروند دیگر کشور در زندان‌های ایالت سند پاکستان زندانی‌اند و تلاش می‌شود که آنان نیز آزاد شوند.

آقای تخاری گفت: «فعلن ما در زندان‌های سند بیشتر از ۴۰ زندانی نداریم، سعی و کوشش جریان دارد که این‌ها هم رها شوند به وطن برگردند. افغان‌ها در این‌جا زندگی خود را به آرامی می‌گذرانند و با مشکل مواجه نیستند«.

از سویی دیگر برخی مهاجران افغان در پاکستان، چالش‌های گرفتن ویزا را از علت‌های اصلی زندانی شدن مهاجران افغان در این کشور می‌دانند.

شفیق‌الله مهاجر افغان در پاکستان به طلوع‌نیوز گفت: «پناهجویان و مهاجرانی که فاقد اسناد اقامت در پاکستان هستند، از سوی پولیس بازداشت و محاکمه شده‌اند و آنان به زندان ادیاله انتقال شدند، با وجود آن‌که حکم اخراج آنان از سوی دادگاه صادر گردیده، آن‌ها ماه‌ها در انتظار اخراج شان به‌سر می‌برند «.

با این حال برخی از فعالان عرصه مهاجرت می‌گویند که برای رفع چالش‌های مهاجران افغان در کشورهای دیگر به‌شمول پاکستان، امارت اسلامی و نهادهای پشتیبان باید بر بنیاد قوانین بین‌المللی، از این کشورها بخواهند که با مهاجران افغان بدرفتاری نکنند.

محمدخان محمدزی طالبی فعال حقوق مهاجران گفت: «دولت‌های کنونی و دولت سرپرست افغانستان و نهادهای بین‌المللی پشتیبان باید در این زمینه از طریق مرجع دیپلماتیک زمینه مسایل اجتماعی، سیاسی و اقتصادی را برای مهاجران فراهم سازند«.

بنا به امار ارایه شده از سوی امارت اسلامی، تا اکنون بیش از ۴هزار افغان از زندان‌های پاکستان رها شده که ۲۳۰ زن و ۲۵۰ کودک نیز در میان آنان شامل بودند.

## از ابتدای سال جاری تاکنون 510 مهاجر غیرقانونی در مدیترانه مرکزی جان باخته‌اند

صدای ترکیه

**سازمان بین‌المللی مهاجرت از طریق شبکه اجتماعی ایکس اطلاعاتی در این زمینه ارائه کرد**



**اعلام گردید که از اول ژانویه سال 2024 بدین‌طرف 510 مهاجر بی‌رویه در مدیترانه مرکزی جان خود را از دست داده‌اند.**

**سازمان بین‌المللی مهاجرت از طریق شبکه اجتماعی ایکس در رابطه با سانحه کشتیرانی 23 آوریل در سواحل شهر سفکس در شمال تونس ضمن اشاره به کشف اجساد نوزده مهاجر که سعی می‌کردند، به جزیره لامپدوزا در ایتالیا راه یابند، نوشت: از اول ژانویه تاکنون مرگ 510 مهاجر غیرقانونی در مسیر مدیترانه مرکزی در اسناد رسمی ثبت شده است.**

**در ادامه موج مهاجرت‌های غیرقانونی به اروپا، مسیر مدیترانه مرکزی که شامل کشورهای ایتالیا، مالت، لیبی و تونس می‌شود، به‌عنوان یکی از مسیرهای پرتحرک و مورد ترجیح در مهاجرت‌های بی‌رویه جلب‌دقت می‌کند.**

**به‌دلیل واژگونی قایق‌ها و آواره شدن مسافرین این قایق‌ها در دریا، هر سال تعداد زیادی مهاجر غیرقانونی در حین تلاش برای عبور از دریای مدیترانه جان خود را از دست می‌دهند.**



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*